# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



لیکوال او شنانند: نظرمحمد مطمئن

۰۳ اگست ۲۰۲۰



# د ارګ لیونۍ مینه او سوله

حفیظ الله امین له ټولي هوښیاري سره سره د ارګ نشي دومره لیونی کړ چي د خپل استاد ترکي پر خوله یې په همهغه ارګ کي بالښت ورکیښود. خو ډیر ژر د خلقیانو او روسانو په ګډو عملیاتو کي امین هم قتل شو.

ببرک  کارمل له واکه تر لیري کیدو یوه میاشت مخکي، ګورباچوف ماسکو ته وغوښت، د کي جي بي مشر ویکټور میخیلوویچ شیبرکوف ورته وویل چي تاسي ښاغلی ولسمشر استعفی وکړئ، ببرک کارمل ورته وویل چي کله کابل ته ولاړم دا کار به وکړم.

کابل ته د کارمل له راګرځیدو سره سم، پیغلو او ځوانانو لاریونونه پیل کړل، چي شورویان د افغانستان کورنیو چارو کي مداخله کوي.

مګر دا اوه کلونه چي ببرک کارمل د شورویانو په زور په ارګ کي ناست و، کله هم پرچم ډلي پر ځان بده نه وه منلي چي سرولښکرو زموږ ګران هیواد اشغال کړی.

ببرک کارمل نه غوښتل چي استعفی وکړي، بالاخره د شورویانو په مشوره د هغه وخت د امنیتي سکټور مشران "د مرکزي کمیټي منشي صالح محمد زیری، د امنیت وزیر یعقوبي، د دفاع وزیر نظرمحمد او د کورنیو چار وزیر ګلابزوی"  ارګ ته ورغلل، له کارمل څخه یي د استعفی غوښتنه وکړه، یوه ورځ وروسته مجبوراً کارمل  استعفی وکړه، او د سیاسي بیرو غونډه  کي په همهغه ورځ ډاکټر نجیب عمومي منشي او د حکومت رئیس وټاکل شو.

ډاکټر نجیب الله چي کله پوه شو چي روسان له افغانستان څخه ووځي او له جمعیت اسلامي سره یې پټه معامله روانه کړي، هغه هم په روسانو پسي رد بد پیل کړل. له وخت مخکي یي استعفی ورکړه، چي د خپل نږدې او باوري پوځي مشر عبدالرشید دوستم په جال کي ولوید، او بالاخره د پرچم او جمعیت ډلي ګډ دریځ، د طالبانو لخوا د کابل نیول، د هغه په مرګ پای ته ورسید.

صبغت الله مجددي ددې لپاره دوستم ته د خالد بن وليد لقب ورکړ چې په ارګ کې پاتې شي، مګر د کابل هوايي ډګر کې د هغه د الوتکې ویشتلو وویراوه، واک يې په ناخوښی استاد رباني ته تسليم کړ.

استاد رباني خپل د څلور میاشتو واک دوه کاله ته وغځواوه، بيا يې هم ارګ پرېښودل ونه منل او واک يې څلور کالو ته ورسید، تر څو له کابله په تیښته ووت.

دوېم ځل؛ پر افغانستان د امریکا له برید وروسته، بیاځل استاد رباني ارګ ته ننوت، هغه هیڅ دا نه منله چې په ژوند به ارګ خوشی کوي، بوش څلور ځله ټیلیفون ورته وکړ، ورڅخه ویې غوښتل چې له واک څخه تیر شي، لنډمهاله حکومت ته يې تسليم کړي، ويې نه منله، ایران هم ورڅخه وغوښتل، بالاخره د روسیې ولسمشر پوتین په تاجکستان کې د ليدو غوښتنه ورڅخه وکړه، دواړو مشرانو په دوشنبې کې ولیدل، پوتین هغه ته وویل چې په بشپړ احترام تمه لرم چې واک پرېږدئ، د نړیوالو همدا پريکړه ده.

د كرزي څلور دورې (لنډمهاله، انتقالي، لومړئ او دوېمه انتخابي دوره) حکومت و، له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۴، مګر کله چې يې په فبروري ۲۰۱۳ کې له اوباما سره لیدنه وه، د بهرنيو چارو وزير زلمی رسول او د امنيت شورا مشر رنګين دادفر سپنتا هم ورسره ملګري وو، ښاغلي كرزي له اوباما وغوښتل چې د درېم ځل انتخاباتو لپاره به هم د افغانستان په اساسي قانون کې تر بدلون وروسته برخه واخلي، چمتو دی چې بياځل ولسمشر شي، اوباما يې غوښتنه رد کړه. کرزی بیاځل وړانديز وکړ چې ورور يې عبدالقيوم کرزی ارګ ته ننوځي، اوباما ډير ښکاره ورته وويل چې ستاسي له کورنی به واک بل چاته انتقال کيږي.

له مجلس وروسته، د سپينې ماڼې په سالون کې کرزي اوباما ته په ښکنځلو پيل وکړ، چې بيا د کرزي مخالفت له اوباما سره له هيچا پټ پاتې نه شو.

كرزي هوډ درلود چې ډاکټر عبدالله به ارګ ته ورڅخه ننوځي نه، د ۲۰۱۴ ولسمشرئ ټاکنو لپاره يې د زلمي رسول او ډاکټر غني ټيمونه جوړ، او له خلکو يې وغوښتل چې د ډاکټر غني له ډلې سره ملګري شي.

کله چې د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ د ټاکنو پر پايلو ستونزې پيدا شوې، ويل کيږي چې حامد کرزي غوښتل لنډ مهاله حکومت اعلان او د حکومت رئيس پاتې شي، مګر د امريکا بهرنيو چارو وزير جان کيري په منډه کابل ته ځان را وساوه او دواړه ډاکټران يې د واک پر ويش راضي او د ملي يووالي حکومت يې اعلان کړ.

کله چې ډاکټر غني ارګ ته ننوت، ډير ژر يې له حامد کرزي سره اړيکې ترینګلي شوې، کرزي هڅه وکړه چې استاد سیاف ملګری کړي، ويي نه شوای کولا، باالعکس استاد سياف د حراست او ثبات شورا جوړه او له ډاکټر غني سره يې خپلې اړیکې ټينګې کړي.

حامد كرزي وغوښتل چې د شمال ټلوالي د ځينو پخوانيو غړو په ملګرتيا له طالبانو سره نږدې او پر ډاکټر غني سياسي فشار راوړي، مګر طالبانو ته هم سخته وه چې پر کرزي باور وکړي.

حامد كرزي له استاد سياف سره په ګډه وکولای شول چې د ۲۰۱۹ ولسمشرئ ټاکنو پر سر د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ جنجال حل کړي، يادو ۴ واړو مشرانو تمه درلودله چې د طالبانو مقابل کې په کور دننه قوي سياسي اجماع رامنځته کړي، مګر د جولای پر ۲۹مه ۲۰۲۰ چې "ډاکټر غنی، ډاکټر عبدالله، حامد کرزي او نورو" له ډاکټر خليلزاد او جنرال ميلر سره په ارګ کې ناسته درلودله، ويل کيږي چې د طالب بنديانو د خوشي کيدو پر مسئله د حامد کرزي او ډاکټر غني ترمنځ سخته لفظي شخړه پيښه شوې.

په ارګ کې ناست ډاکټر غني په ډيره ښکاره ويلي چې د طالبانو پاتې ۴۰۰ بنديان نه خوشي کوم، او له طالبانو سره جګړې ته چمتو يم. کوم بنديان چې خوشي شوې، پر هغوی هم بياځل چاپې اچوم او نيسم يې.

د اختر په لومړۍ ورځ ډاکټر غني اعلان وکړ چې د ۴۰۰ طالب زندانیانو لپاره مشورتي لویه جرګه را غواړم، داسي ښکاري چې د ټولو یادو پخوانیو ارګ مشرانو په پل ډاکټر غني هم قدم ږدي، زړه یې نه کیږي چې واک بل چاته پریږدي.

پوښتنه داده چې د ډاکټر غني حکومت د "ببرک کارمل، ډاکټر نجیب، استاد رباني او حامد کرزي " له حکومتو څخه قوي دی؟ آیا ډاکټر غني په ولس کې تر یادو ټولو ارګ مشرانو قوي ریښې لري؟ یا داچې له ډاکټر غني سره لا هم سي آی اې او پنټاګون ملګري دي.

زما (لیکوال) په آند چې لا هم له ډاکټر غني سره سي آی اې او پنټاګون ملګري دي، او یادې امریکایي شبکې غواړي چې افغانستان کورنۍ جګړې ته بوځي او له افغان ولس څخه د خپلې ماتې غچ واخلي، کټ مټ لکه کې جي بي او د پخوانی شوروي اتحاد نظامیانو چې همداسي وکړل.

موږ تمه لرو چې افغان سیاستوال په یو ږغ، پر ښکېلو اړخونو فشار راوړي چې د بندیانو موضوع حل او بین الافغاني خبرې ژر پیل شي، او تر ټولو لوی مسؤلیت دادی چې څه ډول وکولای شو چې له کورنۍ جګړې څخه مخنیوی وشي.

که د امریکا متحده ایالاتو – طالبانو ترمنځ د تړون مطابق، امریکا/ناټو پوځیان په ۱۴ میاشتو کې په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووځي، چې نیمایي یې د تړون مطابق دا مهال وتلي، او تر هغه وخت پورې بین الافغاني مذاکرات نتیجه ورنه کړي، پرته له شکه موږ کورنۍ جګړې ته ننوځو.

دارنګه زما (لیکوال) په آند چې ګاونډي هیوادونه، سېمه او نړۍ نور په افغانستان کې له جګړې او پر سېمه او نړۍ یې ناوړه اغیز څخه تنګ راغلي، ټول هڅه کوي چې په افغانستان کې سوله راشي، اوس نو دا په افغانانو پورې اړه لري چې څه ډول له دې فرصت څخه سمه ګټه پورته کړي.

ډاکټر غني پر دې ښه پوهیږي چې بالاخره لکه دا نور مشران چې له ارګ څخه په پوره ناخوښۍ ووتل، یوه ورځ به پر ده هم کړۍ را تنګه او کیدای شي د فشار په نتیجه کې واک بل چاته وسپاري، خو ښه به وي چې د افغان ولس تمې په اوبو لاهو نه کړي، د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره بهاني جوړې نه، بلکې له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل او په هیواد کې تلپاتې سولې ته هوډ ښکاره کړي.